مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۲/۰۳/۰۱

# لیونتوب په آئینه کې

خدایزده ځوک دی؟
هسې وایي،
خوشې سر دی،
په بېځایه ګډو وډو.
وایي، چېرته یو سړی دی، لیونی دی.
نه نه یو نه دی، دوه درې دي.
تر پینځو پورې یې شمېر دی،
ټول بانګساره لیوني دي.
خدایزده چېرته؟
خو دوی اوسي په همدغې دونیاګۍ کې
اوسیدونکي دي زموږ د دې اوبرنګي ښکلي زمکې
دغه زمکه، چې د مور په اللو باندې لا ځرخي
د ماشوم په خندا ګانو ده ودانه
د بوډا په خوله کې یو غاښ غوندې رپي
او مرغی په کې لا الوځي اسمان کې
هر سپرلی وني او بوټي وکړي پاڼي.
هره ورځ یو بل زلمی په چا مېین شي
او نجلی ورته په پټه خوله موسکی شي...
اخ،
خبر شوه رانه هېره
دلته، هلته ویل کیږي،
یو سړی دی لیونی دی
نه یو نه دی، یا ځلور او یا پینځه دي
ټول له سره لیوني دي.
دوی ترخنګ ایښې تنی دي
دا د اور تنی په رنګ د دوزخ سرې دي
تنی نه دي، تاترین ته
ځو پرانیستي دروازې دي.
یو له دغو لیونیو
که تنی ناځاپه کښېکاږي ناپامه
یا له قهره، یا له توکو
بس یو غررررر به د لنبو شي
دوزخونه به خولې خلاصې کړي نړی ته
زموږ زمکه، نیلي زمکه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولــئ

چې د مور په اللو باندې لا ځرخي
چې ماشوم لا په کې خاندي توتکی ته
ونه لا هم مهربانه
ساتي ځاله مرغکی ته
پېغله خیژي لا بلی ته
غوږ يې ایښی
د مین خوږې شپېلی ته.
آخ،
ښنه درنه غواړم!
بیا خبره رانه ولاړه
خدایزده څوک ده؟
اوتو بوتو باندې سر ده
د دونیا له ګېو وډو نه خبر ده
وايي چېرته یو سړی دی،
یا څلور دي یا پینځه،
سوچ لیوني دي.
سرې تنی يې دي تر څنګه
يو ناڅاپه يې که ګوته باندې زور کړي...
ټوله زمکه به راوشکېږي له هاره
وايي: زمکه داسي زانګي
لکه شین غمی د ښکلې غاړکی کې
که تنی لیونی زور کړي،
غاړکی به د اسمان له غاړې پرې شي
او دا زمکه
-چې د شین غمي په شان ده-
د یو لوی ښامار په ستوني کې را پریوزي
زموږ زمکه به دوزخ کې سوې سکور شي.
اللو للو للو به
د مورکی ستوني کې سره لنبه د اور شي
د ماشوم په خندا ګانو به اور بل شي
د مرغی ځاله به دود شي
او ایرې ایرې به پریوځي
هسکه دنګه ګوره ونه.
د مین زلمي په خوله به شپیلۍ شنه لنبه د اور شي
او نجلی به يې همداسي په بلی لکه تور سکور شي.
ښه!
که یو ناڅاپه دغه لیوني په لیونتوب شي
او تنیو ته زور ورکړي
که دا زمکه لکه توپ د سرو لنبو ووځي له هاره
غورهار د سره دوزخ ته ور ګوزار شي له مداره
په روستی روستی شېبه کې
په لنبه لنبه لنبه کې
وایه:
څه له خدایه غواړې؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ